قرآني بيان

# د داتا حُضُور فيض

د مدني مرکزونو (فيضان مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

**08-August-2025**

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 8 اګست، کال 2025ء (اسلامي تاريخ : 13 صَفَر شريف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د داتا حُضُور فيض

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فيضان پهٔ ټولو ښارونو کښې
- د معذوره کَس شِفا نصيب شوه
- آيا غير الله ته داتا وئيلے شي؟
- د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه تعليمات

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ كُلَّ يَوْمٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَكُلَّ لَيْلَةٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ حُبًّا بِيْ وَشَوْقًا اِلَيَّ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ اَنْ يَغْفِرَ لَهٗ ذُنُوْبَهٗ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَذٰلِكَ الْيَوْمَ

چا چې پۀ ورځ او شپه کښې په ما باندې د شوق او محبت پۀ وجه درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو پۀ الله پاک باندې حق دے چې هغه د هغۀ د هٰغې ورځې او د هٰغې شپې ګناهونه وبخښي- (1)

برسے گی رحمتِ شہِ ابرار بالیقیں | مٹ جائے گا گناہوں کا کاجل، درود پڑھ

ان کی ہی بارگاہِ مُنَوَّر میں صبح و شام | کونین میں ہیں سب سے جو افضل، درود پڑھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ كريم کښې فرمائي):

فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۙ ﴿۴﴾ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۘ ﴿۵﴾ (پاره:30، النّٰزعٰت:4 و 5)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... معجم الكبير، قيس بن عائذ ابو كاہل، جلد:8، صفحه:69، حديث:15316۔

ترجمه کنزُالعِرفان: بیا (قَسَم دے...!!) د مخکښې وروړاندې کیدونکو- بیا د کائنات د نظام چلوونکو (اے کافرو پۀ تاسو به قیامت ضرور راځي)-

## د حضرت دَاتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د صَفَرُ المُظفر مبارکه میاشت ده- پۀ 20 صَفَرُ المُظفر د عالَمِ اِسلام د مشهورې او معروفې هستۍ د تاجدارِ لاهور ،حُضُور داتا گنج بخش علي هجویري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه عرس مبارک وي-

✿ دَاتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ څه کم یا زیات 400 هجرۍ کښې دې دنیا ته تشریف راوړلو ✿ د هغوئي نوم مبارک: عِلي او د والِد صاحب نوم یې: عثمان دے ✿ دَاتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د افغانستان د علاقې غَزني اوسیدونکے دے: د غَزني یوه محله ده: هجویر- دَاتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ دغه محله کښې اوسیدو، پۀ دې نسبت سره ورته هجویري وئیلے شي ✿ هغوئي نَجِیْبُ الطَّرَفَیْن یعني حَسَني، حُسیني سَیِّد دے ✿ د شروع نه ډیر نیک، عبادت کوونکے او د عِلمِ دین ډیر شوق لرونکے وو ✿ دَاتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د عِلمِ دِین زده کولو د پاره د عراق، شام، لُبنَان، آذر بائیجان، خُراسان او تُرکِستان وغیره ډیرو ملکونو سفر وکړو، د ھغه وخت د لویو لویو عالمانو او صوفیائے کرامو نه یې عِلمِ دِین زده کړو ✿ تقریباً د 34 کالو پۀ عمر مبارک کښې یې د خپل پیر صاحب شیخ ابو الحسن خُتَّلي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ حکم باندې لاهور ته تشریف یوړلو ✿ هلته یې د نیکۍ دعوت عام کړو، د دینِ اِسلام پیغام یې خور کړو، خلقو ته یې د قرآن او سُنَّت تعلیم ورکړو، پۀ خپلو اخلاقو، پۀ کردار، کله پۀ بیانونو کولو سره، کله پۀ کراماتو ښکاره کولو سره یې بے شمیره کافِران مسلمانان کړل، کوم چې د مخکښې نه مسلمانان وو، هغوئي یې د سُنَّتو نمونې جوړې کړې، ډیر عالمان یې جوړ کړل، ډیر خلق یې پۀ خپل تربیت کښې د ساتلو سره د وِلاَیَت اوچتې مرتبې ته وَرَسَوَل ✿ په څه کم یا زیات 30 کاله موده کښې هغوئي پۀ بَرِّ صغیر

(*Subcontinent*) کښې يو انقلاب راوستو ❀ د يوخ قول مطابق هغوئي پهٔ 465 هجرى کښې د دې دنيا نه پرده وفرمائيله ❀ د هغوئي مزار مبارک پهٔ لاهور کښې دے ❀ د هغوئي پهٔ نسبت سره لاهور ته مرکزُ الاَولیا او دَاتا نګر هم وئيلے شي۔ (1)

| | |
|---|---|
| کیا غرض دَر دَر پھروں میں بھیک لینے کے لئے | ہے سلامت آستانہ آپ کا دَاتا پیا |
| جھولیاں بھر بھر کے لے جاتے ہیں منگتے رات دِن | ہو مِری اُمّید کا گلشن ہَرا دَاتا پیا (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰہ! حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کامِل ولي دے او د هغوئي فيض نن هم جاري دے۔

مونږ پهٔ شروع کښې د 30 سيپارې، د سُورهٔ نَازِعَات د 2 آيتونو د اوريدو سعادت حاصل کړو، راځئ چې وړومبے د دې آيتونو وضاحت واورو، بيا د دې آيتونو پهٔ رڼا کښې د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فيض ذِکر اورو۔

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۙ﴿۴﴾ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۘ﴿۵﴾ (پارہ:30، سورۃ النّٰزِعٰت:4و5) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا (قَسَم دے...!!) د مخکښې وړ وړاندې کيدونکو۔ بيا د کائنات د نظام چلوونکو (اے کافرو پهٔ تاسو به قيامت ضرور راځي)۔ |

پهٔ دې ځائے کښې پهٔ اصل کښې 5 صفتونه دي، د کومو چې الله پاک قسم اِرشاد فرمائيلے دے، پهٔ هغې کښې دوه صفتونه مونږه واوريدل، فرمائي: د مخکښې وړ وړاندې کيدونکو قسم! او د کائنات د نظام چلوونکو قسم---!!

1... تفصیل کے لئے دیکھئے: مکتبۃ المدینہ کا رسالہ "فیضانِ دَاتا علی ہجویری رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ"۔

2... وسائلِ بخشش، صفحہ:534۔

دلته یوه خبره یاده ساتئ چې د ټول کائنات نظام هُم الله پاک چلوي، د هغهٔ شان دا دے چې پهٔ کُن فرمائیلو پهٔ زرګونو جهانونه پیدا کولے شي، هغهٔ د چا محتاج نهٔ دے، ټول د هغهٔ محتاج دي خو الله پاک هم پهٔ خپل قانون دا نظام جوړ کړو چې چا ته د دې کائنات د نظام د خیال ساتلو ذِمه وارۍ عطا کوي- لکه فرښتو ته مختلفې ذِمه وارۍ ورکړے شوې دي ❁ بعضې فرښتې پهٔ باران ورولو باندې مقررې دي ❁ بعضې فرښتې پهٔ رُوح اخستو باندې مقررې دي ❁ د چا پهٔ غرونو باندې ذِمه واري ده ❁ څهٔ پهٔ سمندرونو او دریابونو باندې مقرر دي، غرض دا چې دا د رَبِّ کریم نظام دے، هغهٔ چې څنګه غواړي هم هٔغسې یـې چلوي-

اوس سوال دا دے چې الله پاک فرمائي:

فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۙ﴿۴﴾ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۘ﴿۵﴾ (پاره:30، سورۃالنّٰزعٰت:4و5)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا (قَسَم دے...!!) د مخکښې ور وړاندې کیدونکو- بیا د کائنات د نظام چلوونکو (اے کافرو پهٔ تاسو به قیامت ضرور راځي)-

پهٔ دې مقام باندې هٔغه کوم خوش قِسمته دي، د چاچې الله پاک قسم اِرشاد فرمائي؟ دا کوم خلق دي کوم چې وړاندې تلونکي دي؟ څوک دي کومو ته چې الله پاک د کائنات د نظام د خیال ساتلو ذِمه واري ورکړې ده؟ ❁ اِمام فخر الدِّین رازي ❁ علّامه مَحمُود آلوسي ❁ اِمام بیضاوي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیہِم او نور ډیر مفسرینِ کرام فرمائي: د دې نه مُراد د اولیائے کرامو هٔغه پاک روحونه هم کیدے شي، کوم چې پهٔ دُنیا کښې د الله پاک د قُرب مشتاق اوسي، بیا چې څنګه هغوئي د خپلو وجودونو نه جُدا کیږي نو پهٔ تیزۍ سره د الله پاک د قُرب طرف ته ور وړاندې کیږي، څکه دا وړاندې تلونکي دي- بیا چې څنګه الله پاک فرښتو ته مختلفې ذِمه وارۍ عطا کړې دي، هُم داسې د دې اولیائے کرامو پاکو رُوحونو

ته هم د مختلفو کارونو ډيوټياني سپارلے کيږي، هم دا هُغه پاک روحونه دي، (1) د کومو په قَسم فرمائيلو چې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۙ﴿۴﴾ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۘ﴿۵﴾ (پاره:30، سورة النّٰزعٰت:4و5) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا (قَسَم دے...!!) د مخکښې ورړاندې کيدونکو- بيا د کائنات د نظام چلوونکو (اے کافرو په تاسو به قيامت ضرور راځي)- |

## پاک رُوحونه د فرښتو سره ميلاؤيږي

په قرآنِ کريم کښې په نورو ځايونو کښې هم د دې خبرې بيان موجود دے، چې د اوليائے کرامو پاک رُوحونه چې کله د هغوئې د وجودونو نه جُدا کيږي نو هغوئې ته وئيلے کيږي:

| | |
|---|---|
| فَادْخُلِیْ فِیْ عِبٰدِیْ ۙ﴿۲۹﴾ وَ ادْخُلِیْ جَنَّتِیْ ﴿۳۰﴾ (پاره:30، سورة الفجر:29و30) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا زما خاصو بندګانو کښې داخل شه- او زما جَنَّت ته داخِل شه- |

شاه وَلِيُّ الله محدثِ دِهلوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې د وَلِيُّ الله پاک رُوح ته د فرښتو سره د شامليدو حق ورکړے کيږي- (2)

## حضرت جعفر طيار رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ ته دوه وَزَرې عطا کړے شوې

حضرت جعفر طيار رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ صحابئ رسول دے، هغوئې په جنګِ موته کښې شهيد شو، صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُما فرمائي: يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، نزدې ورسره (د حضرت جعفر طيار رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ کونډه ښځه) حضرت اَسمَاء بنتِ عُمَيس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُما هم حاضره وه، ناځاپه سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سلام جواب ورکړو- حالانکې د سلام

---

1... تفسير بيضاوی مع حاشيه شيخ زاده، پاره:30، النازعات، زيرِ آيت:5، جلد:8، صفحه:488 خلاصةً-
2... حجة الله البالغة، القسم الاول، المبحث الاول، باب ذکر الملا الاعلیٰ، جلد:1، صفحه:33-

کولو والا څوک هم نۀ وو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا له جواب ورکړو؟ د دې پۀ وضاحت کولو يې وفرمائيل: اے اسماء! دا جعفر دے کوم چې د حضرت جبرائيل او ميکائيل عَلَيهِمَا السَّلام سره روان وو، هغوئي ما ته سلام وکړو او جعفر ما ته ووئيل چې پۀ جنګ کښې زما وجود 73 ځائے زخمي شوے وو، ما اِسلامي جنډا پۀ ښي لاس کښې ونيوله، زما هُغه لاس کټ کړے شو، بيا ما اِسلامي جنډا پۀ ګڅ لاس کښې ونيوله، زما هُغه لاس هم کټ کړے شو، اللّٰه پاک د هُغه لاسونو پۀ ځائے ما ته 2 وَزَرې راعطا کړې دي، د کومو پۀ ذريعه چې زۀ د فرښتو سره الوځم او چرته چې غواړم، کوزيږم۔ (1)

اِمامِ حاکِم پۀ مستدرک کښې روايت کړے دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: يوه شپه ما جعفر وليدو، د هغۀ دوه وزرې وې او هغۀ د فرښتو د يوې ډَلې سره الوتلو۔ (2)

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې د اللّٰه پاک نيکان بندګان، اوليائے کرام چې کله د دې دُنيا نه رخصت شي، د هغوئي رُوحونه د وجودونو نه جُدا شي نو داسې نۀ وي چې مَعَاذَ اللّٰه! هغوئي مړۀ شي او فَنَا شي، نا--!! نا- بلکې هغوئي ژوندي دي، هغوئي ته مختلفې ډيوټياني سپارلے کيږي۔

## د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فيض

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قرآنِ پاک او د حديثونو نه دا خبره ثابت ده چې اوليائے کرام پۀ خپلو خپلو مزارونو کښې ژوندي دي، د هغوئي رُوحونه مختلف کارونه کوي، پۀ هغې کښې يو کار د خپلو عقيدت مندو مدد کول هم دي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ✿ حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم کامِل وَلِيّ وو ✿ سيد هم وو ✿ ډير لوئي عالِم فاضل هم وو ✿ د ولايت اوچتې مرتبې ته هم رسيدلے وو ✿ هغوئي هم پۀ خپل مزار

---

1...مستدرک، کتاب معرفة الصحابة رَضِیَ اللّٰهُ عَنهم، ذکر قصة شهادة جعفر...الخ، جلد:4، صفحه:219، حديث:4990۔

2...مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، کان جعفر بن ابي طالب يطير...الخ، جلد:4، صفحه:219، حديث:4990۔

مبارک کښې ژوندي دي ❁ که غواړې نو خپلو عاشقانو ته ديدار هم ورکوي او ❁ د الله پاک په عطا سره د هغهٔ په ورکړے شوي طاقت سره د خپلو عاشقانو مشکلات هم اسانوي۔

## د داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه فيضان په ټولو ښارونو کښې

حضرت مُجَدِّدِ اَلف ثاني رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: زما په نزد لاهور ښار د برِّ صغير په ټولو ښارونو کښې قُطب دے، د دې ښار خير او بَرَکت د برِّ صغير په ټولو ښارونو کښې خور دے۔ (1)

## کامِل پير ورته ميلاؤ شو

بابا غُلام فريد بټالوي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه يو بزرګ تير شوے دے، لږه زمانه يې کيږي، دومره مخکښينے نهٔ دے۔ د هغوئي په زړهٔ کښې يو خواهش وو چې په څهٔ طريقه يې د الله پاک قُرب نصيب شي، د باطِن صفائي وشي او د زړهٔ دروازې يې برسيره شي۔ د دې خواهش د پاره به يې عبادتونه کول، رياضتونه کول، د بزرګانو په خدمت کښې به حاضريدلو خو څهٔ چې يې مقصد وو هغه حاصل نهٔ شو، ډير مايوسه شو، دومره مايوسه شو چې د خود کشئ کولو ذِين يې جوړ کړو، دې مقصد د پاره يې زهر هم واخستل۔

خو د الله پاک په رحمت سره په هغوئي باندې کرم وشو، چې اوده شو نو بخت يې رابيدار شو، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د قِسمت ښهٔ کولو د پاره په خوب کښې تشريف راوړو، د هغوئي سره يو بل بزرګ هم موجود وو، داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د بابا غُلام فريد مسئله هغه بزرګ ته وسپارله۔ چې سترګې يې وغړيدلې نو خوشحاله وو، د خود کشئ خرابه اِراده يې هم پريښوده خو بيا په سوچ کښې شو چې هغه بزرګ څوک وو؟ د هغوئي سره به څنګه ميلاؤيږم؟ يو ځل د يو دوست سره ناست وو او خبرې يې کولې، دوست ووئيل: که د زړهٔ مُراد غواړې نو د پير مهر علي شاه صاحب رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه په خِدمت کښې حاضر شه!

---

1... فيضانِ داتا علی ہجويری، صفحه:45۔

فرمائي: زما نور څۀ پکار وو؟ د زړۀ مُراد--!! دې د پاره زۀ کولړه شريف ته هم حاضر شوم، څنګه چې ورسيدم نو څۀ ګورم چې هم هغه بزرګ کوم چې داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پۀ خوب کښې راښودلے وو، پير مهر علي شاه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم هغۀ دے، ما فوراً د هغوئي پۀ لاس باندې بيعت وکړو او د هغوئي پۀ غلامئ کښې پاتې شوم او د باطِن پۀ صفايئ کښې مصروف شوم- (1)

| | |
|---|---|
| آپ محتاجوں کے والی درد مندوں کی دواء | بیکسوں کے آپ وارث اے ولی، شانِ خدا |
| مشکلیں حل ہوتی ہیں دربارِ عالی سے سدا | جاری دریا ہے سخاوت کا تری شہنشاہ |

گنج بخش فیضِ عالم مظہرِ نورِ خدا
ناقصاں را پیرِ کامل کاملاں را رہنما

## د معذوره ګس شِفا نصيب شوه

د لاهور د اوسيدونکي يو صاحب بيان دے، وائي چې يو ځل زۀ د خپل يو دوست سره د داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د سلام د پاره روان ووم، پۀ لار کښې مې د لوهاري ګيټ سره يو ګس وليدو، هغۀ رانجه خرخول، زما دوست د هغه بوډا بابا طرف ته اِشاره وکړه او اوئې وئيل: دا ګس د داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ژوندے کرامت دے- ما پۀ حيرانتيا سره پوښتنه وکړه: هغه څنګه؟ اوئې وئيل: راځه چې د هغۀ نه يې پخپله واورو: مونږه دواړه د هغۀ خوا له لاړو، د هغۀ نه مو د واقعې پوښتنه وکړه، نو هغۀ ووئيل: 25 يا 30 کاله مخکښينې خبره ده، زۀ معذوره ووم، زۀ نۀ شوم تللے خو زما عادت وو چې د جُمعې نـمونځ به مې د داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مزار شريف سره پۀ خوا کښې پۀ جومات کښې ادا کولو، زما ځامنو به زۀ بوتلم ، واپس به يې راوستم هم، يوه ورځ د جُمعې د نـمونځ کولو د پاره پۀ جومات کښې حاضر ووم، اِقامت کيدو، ما وکتل چې د يو نوراني مخ والا بزرګ زما پۀ خوا کښې

1... سیرت بعد وصال حضرت داتا گنج بخش، صفحہ:135 و 136 خلاصۃً۔

ولاړ دے، هغوئي ووئيل: ته ولي نهٔ ودرېږې؟ ما ووئيل: زهٔ خو معذوره يم، پهٔ ښپو معذوره يم- هُغه بزرګ زما مَټ کلک ونيوو او اوئې فرمائيل: راپاځه---!! ته بالکل ټيک يــې- هغوئي چې ځنګه زهٔ راپاځولم نو زهٔ ودريدم، لکه چې زما ښپې چرې هډو بيمارې نهٔ وې- د نــمونځ نه پس ما هُغه بزرګ ډير ولټولو خو هغهٔ مې پيدا نهٔ کړو- (1)

میں ہوں عصیاں کا مریض اور تم طبیبِ عاصیاں
ہو عطا مجھ کو گناہوں کی دوا داتا پیا!! (2)

## پهٔ مُلّا جمال تَلوِي باندې کرم---!!

يو نيک بزرګ تير شوے دے: مُلّا جَمال تَلوِي- د لاهور اوسيدونکے وو، هغوئي د داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه سره ډير عقيدت لرلو- 12 کاله پرله پسې د هغوئي معمول وو چې د داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه سلام ته به حاضريدو، که ګرمي به وه او که يخني، باران به وو او که طوفان، که هر څهٔ به وو، پهٔ څهٔ نا څهٔ طريقه به د داتا رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه دربار ته ضرور تللو، يو ځل داسې وشو چې مُلّا جمال تَلوِي سخت وږے شوے وو، پيسې ورسره هم نهٔ وې، ډوډۍ هم چرته ميلاؤ نهٔ شوه، پهٔ دې حالت کښې يو باغ ته لاړو، د شاتوت وَنه وه، د هغې نه لاندې ودريدو، ناڅاپه څهٔ ګوري چې پهٔ ونه باندې د يو نُوراني مخ والا بزرګ ناست دے، فرمائي: ملّا جماله! شاتوت وخوره؟ پهٔ دې وئيلو هغوئي ښاخ راښکته کړو، حالانکې دا د شاتوتانو موسم نهٔ وو، بيا هم د هُغه وَنې نه تازه پاخهٔ شاتوتان راپريوتل- مُلا جمال تَلوِي وائي: زما يقين دے چې هُغه بزرګ هُم داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه وو- (3)

آپ کی چشمِ کرم ہو جائے گر بدحال پر
دُور ہو غم کی ابھی کالی گھٹا داتا پیا (4)

---

1...سیرت بعد وصال حضرت داتا گنج بخش، صفحه: 141 خلاصةً۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه: 534۔
3...سیرت بعد وصال حضرت داتا گنج بخش، صفحه: 174 خلاصةً۔
4...وسائلِ بخشش، صفحه: 534۔

# د داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د طرف نه د قافلې خير خواهي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي فيضانِ اولياء دے، د الله پاک فضل دے چې اوليائے کرام په دعوتِ اِسلامي والؤ عاشقانِ رسول باندې کرم فرمائي- يو ځل يو څو اِسلامي ورونه کوم چې د دعوتِ اِسلامي والؤ د عاشقانِ رسول سره د قافلې مسافر وو، سُنَّت يـې زده کول، د نيکۍ دعوت يـې عام کولو، د هغوئي بيان دے چې زمونږه قافلې د الله پاک په لار کښې سفر کولو او په لاهور کښې د داتا دربار والا جومات ته ورسيدله، هلته زمونږ د دريو ورځو قيام وو، د قافلې د جدول (*Schedule*) مطابق د سُنَّتو د زده کولو او ښودلو حلقه لګيدلې وه، په دې کښې يو صاحب تشريف راوړو، هغوئي د عاشقانِ رسول سره ډير په محبت سره ملاقات وکړو، بيا يـې ووئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! بيګا زما بخت رابيدار شو، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ما ګنهګار ته په خوب کښې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: د دعوتِ اِسلامي د قافلې والا عاشقانِ رسول د دريو ورځو د پاره زما په جومات کښې قيام کوي، تهٔ د هغوئي د خوراک انتظام وکړه! ځکه ما د قافلې والؤ د خير خواهۍ د پاره خوراک راوړے دے، قبول يـې کړئ!

کیا غرض در در پھروں میں بھیک لینے کیلئے
ہے سلامت آستانہ آپ کا داتا پیا
جھولیاں بھر بھر کے لے جاتے ہیں منگتے رات دن
ہو مری اُمید کا گلشن ہرا داتا پیا (1)

1...وسائلِ بخشش، صفحه:534۔

## پهٔ رُوحاني توجه باندې د مسئلو حل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه آيت مبارک واوريدو، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۝۵ (پارہ:30، سورۃالنّزعٰت:5) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بيا د كائنات د نظام چلوونكو (قَسم---!!)- |

د دې لاندې اِمام فخر الدِّين رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بعضې وخت د اولیائے کرامو پاک رُوحونه پهٔ خوب کښې تشريف راوړي يا داسې پهٔ خپله رُوحاني توجه زمونږ د مشکلاتو حل هم مونږ ته ښائي- [1] اَلْحَمْدُلِلّٰه! داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د خپلو عاشقانو داسې مدد کوي-

## داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روحاني مدد وکړو---!

حُضُور خواجه قَمرُ الدِّين سِيَالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ وطن پاکستان مشهوره او معروفه هستي ده، يو ځل هغوئي د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دربار سره پهٔ نزدې جومات کښې ناست وو، ورسره د هغوئي ډير مُريدان او محبت کوونکي هم حاضر وو، پهٔ دې کښې يو غير مسلمه هلته راغلو، خلقو خواجه قَمرُ الدِّين سيالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته ووئيل چې حُضُورا! دا د غير مسلمو د ټولو نه لوئي عالِم دے، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو سره بر ناحقه بحث کوي او ډيرے تنګوي-

پهٔ اصل کښې دا ګس د خواجه قمر الدِّين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تنګولو پهٔ نيت هم راغلے وو، نو هغهٔ يوه پوښتنه وکړه، اوئې وئيل: تاسو مسلمانان د جومات پهٔ ديوالونو باندې يو شِعر ليکئ:

چراغ و مسجد و محراب و منبر | ابوبکر و عمر، عثمان و حيدر

---

1...تفسير كبير، پاره:30، سورۂ نازعات، زيرِ آيت:5، جلد:11، صفحه:31 خلاصةً-

وضاحت: يعني ابو بڪرصِدِّيق، عمر فاروق، عثمانِ غني، علي المُرتضیٰ (د اِسلام څلور واړه اولني خلفاء رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم) د شمعې په شان رڼا تقسيموونڪي، د جومات په شان د عزت او شان والا او د محراب او منبر حقيقي وارثان دي۔

غير مسلمه پوښتنه وکړه: تاسو د جومات په ديوال باندې دا شعر ولې ليکئ؟ خواجه قَمرُ الدِّين سيالوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: دې د پاره چې کله هم يو ګس جومات ته راشي نو هغهٔ ته پته ولګي چې دا جومات عاشقانِ رسول، عاشقانِ اهلِ بيت او د عاشقانِ صحابه جوړ کړے دے۔ په دې جواب اوريدو هغه غير مسلمه ووئيل: تاسو مسلمانان يئ، حضرت مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خپل نبي منئ، تاسو له خو پڪار دي چې صرف د هغوئي تعريفونه کوئ، تاسو له پڪار دي چې رڼا تقسيموونڪې شمع، د جومات په شان د شان او عزت، د محراب او منبر حقيقي مالِک صرف هُم مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) منئ خو تاسو دا شانونه د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ځائے د نورو د پاره منئ، لهذا تاسو دا شانونه د صحابؤ د پاره په منلو د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان ڪښې کمے کوئ، حالانڪې هغهٔ ستاسو نبي دے۔

خواجه قَمرُ الدِّين سيالوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې اعتراض ډير جوابونه ورکړل خو هغهٔ داسې ضِدي وو چې منلو ته يې هډو تيار نهٔ وو (بيا ظاهره ده چې هلته نور خلق هم موجود وو، که هغه غير مسلمه نهٔ وے مطمئين کړے شوے نو د نورو په زړونو ڪښې وسوسه راتلے شوه) نو خواجه قمر الدِّين سيالوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما سوچ کولو چې دا اخر څنګه مطمئين کړم؟ لا مې دا سوچ کولو چې داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کرم وفرمائيلو، د هغوئي د روضې مبارکې نه د نُور يوه شغله راوچته شوه او راغله زما سينې ته راکوزه شوه، هغه وخت د داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په فيضان زهٔ د هغهٔ د هغه اعتراض په جواب پوهه شوم، ما هغه غير مسلمه ته ووئيل: اے انسانه واوره! مونږ چې وايو:

چراغ و مسجد و محراب و منبر | ابوبکر و عمر، عثمان و حیدر

وضاحت: د دې حقيقي مطلب دا جوړيږي چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ھٰغه شان والا نبي دے چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل نبوت په نظر باندې خوک د شمعې په شان د رڼا والا جوړ کړو چا ته يې د جومات په شان، شان او عزت عطا کړو خوک يې د محراب او د منبر مالِک جوړ کړو او تر قيامته پورې يې اِمام، پيشوا او مقتدیٰ جوړ کړو- څکه په دې شعر کښې دننه د حضرت ابو بکر، د حضرت عمر فاروق، د حضرت عثمانِ غني، د حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُم شان خو ضرور شته دے خو د دې سره سره د دې خبرې هم بيان دے چې

دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہو گیا | جس کے حُضُور ہو گئے، اس کا زمانہ ہو گیا

څکه شعر په ظاهره د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان په شان کښې دے خو په اصل کښې د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظمت او شان بيانوي- بس دا جواب اوريدل وو چې ھٰغه غير مسلمه راپريوتو، د هغهٔ ټوپۍ د سر نه وغورځيدله، هغهٔ فوراً ځان ټيک کړو او اوئې وئيل: کوم جواب چې نن تاسو راکړے دے، دا جواب تر ننه پورې چا هم ما له نهٔ وو راکړے- (1)

## هر صحابئ نبي! جَنَّتي! جَنَّتي!

**الله! الله! اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو! اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو** رَضِیَ اللهُ عَنْهُم **عاشقانو!** لږ غور وکړئ! د اوليائے کرامو د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره خومره محبت دے، حُضُور داتا گنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پينځمې صدۍ هجرۍ بزرګ دے، خواجه قمرُ الدِّين سيالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تيرې صدۍ بزرګ دے، يعني په مينځ کښې يې تقريباً 9 صدۍ فاصله ده، د دې 9 صدو نه پس خواجه قمر الدين سيالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاه کښې حاضر دے، يو غير مسلمه

1...نامِ محمد کے میں قربان، صفحہ:44 45 بتغير قليل-

راځي، د صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان پۀ شان باندې اعتراض کوي، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه چې تر څو پورې پۀ دُنيا کښې وو، هٰغه وخت خو به يـې د صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان شانونه بيانول خو قربان شم چې کله د هغوئي د وصال نه پۀ صدو پس د صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان پۀ شان باندې اعتراض وشو نو پۀ مزار مبارک کښې پۀ ملاسته هم د هغوئي دا خبره خوښه نۀ شوه او هغوئي پۀ خپل رُوحاني فيض سره د صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان د شان اِظهار وفرمائيلو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم **دعوتِ اِسلامي د اوليائے کرامو فيضان دے، د داتا** رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه **فيضان دے**، د الله پاک پۀ فضل سره، د هغۀ پۀ عطا سره داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه د دُنيا نه د پردې فرمائيلو نه پس هم پۀ خپل رُوحاني فيضان سره چې د کومو صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان د شان اِظهار وفرمائيلو، نن دعوتِ اِسلامي د هٰغه صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان د محبت ډک جامونه پۀ خلقو څښې- اَلْحَمْدُلِلّٰه! هم دا د دعوتِ اِسلامي فيضان دے چې د ماشوم ماشوم پۀ ژبه باندې دا نعره ده:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابياتې هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دې حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره زَوجۀِ نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| او ابُو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي | دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي |

## آيا غيرُ الله ته داتا وئيلے شي---؟

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه دا عطاګاني دي، دا عنايتونه دي چې نن هم د هغوئي پۀ عاشقانو مسلسل راوريږي، دا د داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه

جاري او روان فيضان دے، څوک چې پهٔ کوم نيت او اراده باندې ځي، هغه يې نصيب کيږي- بعضې وخت پهٔ زړونو کښې وسوسې راځي چې آيا غَيرُ الله ته هم داتا وئيلے شي؟ ورکوونکے ذات خو د الله پاک دے، بيا بَل چا ته مونږه داتا ولې وه وايو؟

پهٔ دې تعلق سره ياد ساتئ چې بندګانو ته داتا وئيل بالکل صحيح دي، دا خبره د قرآنِ کريم نه هم ثابته ده- پهٔ شپاړسمه سيپارهٔ، سورهٔ مريم کښې د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د مور جانې حضرت مريم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها واقعه ذِکر شوه، کله چې حضرت مريم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها تنهايۍ ته تشريف يوړلو نو هلته يې د يو نُوراني شکل والا ځوان وليدو، هغه ډيره حياداره وه، پهٔ خپله کمره کښې چې يې داسې ځوان وليدو نو اوئې وئيل:

| | |
|---|---|
| اِنِّيۡۤ اَعُوۡذُ بِالرَّحۡمٰنِ مِنۡكَ (پاره:16، سورهٔ مريم:18) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: زهٔ ستا نه د رحمان پناه غواړم |

هٔغه ځوان څوک انسان نهٔ وو بلکې پهٔ انساني شکل کښې حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام وو، هغوئي وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنَّمَاۤ اَنَا رَسُوۡلُ رَبِّكِ ۖۗ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿۱۹﴾ (پاره:16، سورهٔ مريم:19) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: زهٔ خو ستا د رَبّ د طرفه راليږلے شوے يم د پاره د دې چې زهٔ تا ته **يو پاکيزه ځوي درکړم**- |

يعنې اے مريم! مهٔ ويريږهٔ! زهٔ د الله پاک راليږلے شوې فرښته يم، تاسو له د ځوي درکولو د پاره راغلے يم-

سُبۡحٰنَ الله! دا صفا لفظ **داتا** والا دے، يعنې حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام کوم چې يقيناً غيرُ الله دے، د الله پاک پهٔ عطا سره، د الله پاک د طرف نه حضرت مريم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها ته د ځوي ورکولو د پاره راغلے وو- معلومه شوه چې **غيرُ الله ته داتا وئيل هم صحيح دي او داتا منل هم صحيح دي-**

# د داتا حُضُور رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ تعلیمات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ډير د اوچتې مرتبې هستي ده، د اللّٰه پاک په فضل د هغوئي دربار عالي شان ته د حاضريدونکو مرادونه پوره کيږي او اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! تر قيامته پورې به هم دغه شان پوره کيږي- رَبِّ کريم دې مونږه ټول د اوليائے کرامو عقيدت مند لري-

يوه خبره کومه چې عرض کول غواړم، هغه دا ده چې د اوليائے کرامو کرامات يقيناً چې حق دي، دا اللّٰه والا د خپلو عقيدت مندو مدد هم کوي او مشکلات يې هم حل کوي، په دې کښې هيڅ شک نشته، البته! مونږ له د دوئي تعليماتو ته هم توجه کول پکار ده بلکې که د دُنيا مشکلات مو حل کيږي او که نهٔ، د دې اوليائے کرامو تعليماتو ته توجه کول او په هغې باندې عمل ضرور کول پکار دي-

راځئ چې د داتا حُضُور رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ يو فرمان مبارک واورو او نيت وکړو چې په هغې باندې به عمل هم کوو-

## عِلم زده کول ضروري دي

داتا حُضُور رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: اے د حق طلب ګاره! تا ته معلوميدل پکار دي چې د عمل د پاره چې د څومره عِلم ضرورت دے، هُغه همره عِلم زده کول فرض او لازم دے- نور فرمائي: داسې وګڼه چې نـمونځ يو عمل دے ❁ تر څو پورې چې بنده ته د طهارت (مثلاً اودس او غسل) فرائِض معلوم نهٔ وي ❁ اوبهٔ نهٔ پيژني (مثلاً دا ورته معلومه نهٔ وي چې په کومو اوبو اودس کولے شې او په کومو نهٔ شې کولے) ❁ د قبلې د اړخ عِلم ورسره نهٔ وي ❁ د نـمونځ د وختونو او ❁ د فرائضو او واجباتو وغيره عِلم ورسره نهٔ وي، تر هُغه وخته پورې بنده نـمونځ هم په صحيح طريقه نهٔ شي ادا کولے-[1]

---

1 …کشف المحجوب، باب الاول فی اثبات العلم، صفحه:15 ملتقطًا-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره ښکلې خبره اِرشاد کړې ده- افسوس چې نن سبا د دِيني معلوماتو ډېر کمے دے، دلته خلق د دِين زده کولو طرف ته ډېر کم راځي- مونږ له پکار دي چې فرض عِلمِ دِين زده کړو او په هغې باندې عمل هم وکړو-

## په مدرسةُ الـمدينه بالِغان کښې د داخلې ترغيب

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د اوليائے کرامو په فيضان، د اوليائے کرامو په تعليماتو عام کولو کښې مصروف دے، دعوتِ اِسلامي شپه ورځ د عِلمِ دِين خِدمت کوي، د دعوتِ اِسلامي په 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار دے: مدرسة الـمدينه بالِغان- ❁ په دې کښې د زيات عمر اِسلامي ورونړو ته قرآنِ کريم د صحيح تجويد او قراءت سره ښودلے شي ❁ د دې سره سره د نـمونځ احکام او مسئلې هم ښودلے شي ❁ سُنَّت هم ښودلے شي او د ترجمې او د تفسير د لوستلو او اوريدو موقع هم ميلاؤيږي- ❁ په حديثِ پاک کښې دي: په تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته يې] وښائي- [1] ❁ په يو بَل روايت کښې دي: کوم کَس چې قرآنِ کريم زده کړو، اوئې ښودلو او څۀ چې په قرآنِ کريم کښې دي په هغې باندې يـې عمل وکړو، قرآنِ کريم به د هغه شفاعت کوي او جنَّت ته به يـې بوځي- [2]

اے د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم عاشقانو! د دې فضائلو د حقدار جوړيدو او د صحيح تجويد او قراءَت سره د قرآنِ کريم د زده کولو د پاره په مدرسة الـمدينه بالِغان کښې داخله واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصيب شي، اللّٰه پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1…بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من …الخ، صفحه:1299، حدیث:5027-

2…کنز العمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی تلاوة القرآن …الخ، جلد:1، جز:1، صفحه:266، حدیث:2373-

# قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټيچر(***Quran Teacher***)-

يو څو اهم خاصيتونه: ❁ په دې ايپلي کيشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان د بے شميره آن لائن کورسونو د پاره رجسټريشن کولے شي ❁ په ايجوکيشن پورټل (***Educational Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❁ دا ايپلي کيشن د آئن لائن کيدونکو کورسونو په باره کښې هم معلومات ورکوي- تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر يو کورس انتخاب کولے شئ او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- ❁ د دعوتِ اِسلامي په دې پليټ فارم باندې د اِسلامي ورونړو تقريباً 42 او د اِسلامي خوئيندو تقريباً 38 مختلف اِسلامي کورسونه کولے شي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

مسئله: د جنازې د نـمونځ د پاره په کړي اوداسۀ باندې نور نـمونځونه هم کولے شي-

وضاحت: په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چې د جنازې د پاره چې کوم اودس وکړے شي په هغې باندې نور نـمونځونه نۀ شي کولے- دا يوه غلط فهمي ده- د جنازې د پاره چې کوم اودس وکړے شي، په هغې باندې نور نـمونځونه هم کولے شي، په دې کښې

هيڅ باک نشته- هُغه مسئله د کومې نه چې په خلقو کښې دا غلط فهمي راغلې ده، هغه دا ده چې مثلاً جنازه کيدونکې ده، يو کَس ناوخته راورسيدو، بيا حالت دا دے چې که اودس کوي نو جنازه به ترينه وشي، په دې حالت کښې هغهٔ ته اِجازت دے چې تَيمُّم وکړي او په جنازه کښې شرکت وکړي، دا چې کوم تيمم دے، خاص په دې تيمم باندې نور نـمونځونه نهٔ شي کولے ځکه چې دا تيمم خاص د جنازې د پاره وو او شريعت د يوې خاص مجبورئ په وجه د دې اجازت ورکړے دے- باقي پاتې شو اودس---!! نو د دې دا حکم نهٔ دے- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا اَوَّلُ (اے قديم ذاته---!!)

که د ښځې او خاؤند په خپل مينځ کښې محبت کم شي نو روزانه دې د الله پاک دا خوږ نوم يَا اَوَّلُ سل [100] کرته لولې نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! په خپل مينځ کښې به يـې محبت زيات شي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...فتاوٰی رضويه، جلد:3، صفحه:305و306 خلاصةً-

2...مدنی پنج سوره، صفحه:258-